ب : د لګښت تابع مشتق د مشتق لګښت (-مصرف) یا دحدمصرف په نامه یادیږي. تاسو د لګښت زیاتیدنه د ناروغانو په واکوالي یا تابعیت کي تشریح کړی. (د K(x) جګیدونه).
K'(x) وټاکی او ګراف يي په وضعیه سیستم ( پروت- ولاړ-سیستم) کي انځور کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

پ : د ناروغانو د کوم تعداد سره د لګښت زیاتوال خورا کم دی؟ دا قیمتونه وشمیرئ.

## د الجبري توابعو مشتق

| |
|---|
| د الجبري او نورو توابعو پېژندونه:<br><br>1- یو بنسټیز تابع الجبري بلل کیږي، که د ترتیب قانون یې د مساواتو له لارې ورکړ شوی وي،په هغو کې چې په ترمونو کې د مساواتو د متحولو سره فقط الجبري عملیی(جمع،تفریق، ضرب، تقسیم(چې مخرج یې صفر نه وي)توانکونه او جذرنیونه( د توان-اوریښي اکسپوننتونه مثبت او تام عددي دي) کارول شوي وي.<br><br>2- ناالجبري توابع ترانسځندنت بلل کیږي، لکه اکسپوننشل-ولوګاریمی- او د زاویو توابع.<br><br>3- یو الجبري تابع راشنل بللکیږ ي، که د ترتیب قانون یې د یو مساوات سره ورکړ شوی وي، په کوم کې چې ناپای ډیرې راشنل د شمېر عملیی ((جمع،تفریق، ضرب، تقسیم(چې مخرج یې صفر نه وي)توانکونه او جذرنیونه( د توان-اوریښې اکسپوننتونه مثبت او تام عددي دي) ) کارول شوي وي. |

بیلګه:

د $f(x)=\sqrt{x}$ تابع ورکړ شوې په $x_0$ کې د تابع مشتق پیدا کړئ او د مشتق تابع په ګوته کړئ.

$$\frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{f(x_0+\Delta x)-f(x_0)}{\Delta x}$$

$$\Leftrightarrow\frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{\sqrt{x_0+\Delta x}-\sqrt{x_0}}{\Delta x}$$

$$\Leftrightarrow\frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{(\sqrt{x_0+\Delta x}-\sqrt{x_0})(\sqrt{x_0+\Delta x}+\sqrt{x_0})}{\Delta x(\sqrt{x_0+\Delta x}-\sqrt{x_0})}$$

$$\Leftrightarrow\frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{x_0+\Delta x-x_0}{\Delta x(\sqrt{x_0+\Delta x+\sqrt{x_0}})}$$

$$\Leftrightarrow\frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{\Delta x}{\Delta x(\sqrt{x_0+\Delta x+\sqrt{x_0}})}$$

$$\Leftrightarrow\frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{1}{\sqrt{x_0+\Delta x+\sqrt{x_0}}}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$f'(x_0)\lim_{\Delta x\to 0}\frac{\Delta y}{\Delta x}=\lim_{\Delta x\to 0}\left(\frac{1}{\sqrt{x_0+\Delta x}+\sqrt{x_0}}\right)=\frac{1}{\sqrt{x_0}+\sqrt{x_0}}=\frac{1}{2\sqrt{x_0}}$$

نو د $x_0$ په ځای کې $f'(x)=\dfrac{1}{2\sqrt{x_0}}$ د تابع $f(x)=\sqrt{x}$ مشتق دی.

د تیرو درسونو پر بنسټ $f'(x)=\dfrac{1}{2\sqrt{x}}$ د مشتق تابع ده.

د $f(x)=x^q \;\; ; \;\; q\in Q$ ډوله توابعو مشتق:

د شمیرنې له مخې لاندې لاس ته را وړنې لرو:

| تابع | د مشتق تابع | |
|---|---|---|
| $f(x)=x$ | $f'(x)=1$ | $f'(x)=1\cdot x^0$ |
| $f(x)=x^2$ | $f'(x)=2\cdot x$ | $f'(x)=2\cdot x^1$ |
| $f(x)=x^3$ | $f'(x)=3\cdot x^2$ | $f'(x)=3\cdot x^2$ |
| $f(x)=\dfrac{1}{x}=x^{-1}$ | $f'(x)=-\dfrac{1}{x^2}$ | $f'(x)=-1.x^{-2}$ |
| $f(x)=\sqrt{x}=x\dfrac{1}{2}$ | $f'(x)=\dfrac{1}{2\sqrt{x}}$ | $f'(x)=\dfrac{1}{2}.x^{-\frac{1}{2}}$ |

که دا پورته پنځه مشتقونه یو د بل سره پرتله کړو، نو اټکل کیږي، چې لاندې جوړښتقانون باور لري:

| | |
|---|---|
| د توان (پونتځ) قانون بې له ښوونې:<br>1- مختنې اکسپوننت د متحولې $x$ تر مخ د فاکتور په څېر لیکل کیږي.<br><br>2- نوی اکسپوننت همغه پخوانی اکسپوننت دی، چې په یو کم شوی. | د $f(x)=x^q \;\; \Rightarrow f'(x)=q\cdot x^{q-1}$<br>سره $q\in Q$ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

بیلګه: د $f(x)=\frac{1}{x^2}$ مشتق پیدا کړئ.

ښوونه:

$$f(x)=\frac{1}{x^2}=x^{-2} \Rightarrow f'(x)=-2x^{-3}=-\frac{2}{x^3}$$

بیلګه:

د $f(x)=3x^4$ تابع مشتق پیدا کړئ.

ښوونه:

$$f(x)=3x^4 \qquad c=3 \qquad u(x)=x^4 \Rightarrow u'(x)=4x^3$$

$$f'(x)=c\cdot u'(x)=3\cdot 4x^3=12x^3$$

بیلګه:

غواړو د $f(x)$ تابع مشتق د $x=2$ په ځای کې ونیسو:

$$f(x)=x^2+3$$

$$x=2:\frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{f(2+\Delta x)-f(2)}{\Delta x}=4+\Delta x$$

$$f'(2)=\lim_{\Delta x\to 0}\frac{\Delta y}{\Delta x}=\lim_{\Delta x\to 0}(4+\Delta x)=4$$

$$x=u:\frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{f(u+\Delta x)-f(2)}{\Delta x}=2u+\Delta x$$

$$f'(u)=\lim_{\Delta x\to 0}\frac{\Delta y}{\Delta x}=\lim_{\Delta x\to 0}(2u+\Delta x)=2u$$

بیلګه:

د تا بع $f(x)=\frac{1}{x+1}$ مشتق د $x=2$ په ځای کې پیداکړئ.

ښوونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$f(x)=\frac{1}{x+1}$$

$$x=2:\frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{f(2+\Delta x)-f(2)}{\Delta x}=\frac{1}{3(3+\Delta x)}$$

$$f'(2)=\lim_{\Delta x\to 0}\frac{\Delta y}{\Delta x}=\lim_{\Delta x\to 0}\left(\frac{-1}{3(3+\Delta x)}\right)=-\frac{1}{9}$$

$$x=u:\frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{f(u+\Delta x)-f(2)}{\Delta x}=\frac{-1}{(u+\Delta x+1)(u+1)}$$

$$f'(u)=\lim_{\Delta x\to 0}\frac{\Delta y}{\Delta x}=\lim_{\Delta x\to 0}=\frac{-1}{(u+\Delta x+1)(u+1)}=-\frac{1}{(u+1)^2}$$

بيلګه 2:

(توان( Potence) مشتق، چې طبيعي جګ عدد يا اکسپوننت لري:

موږ د $1,2,3,...$ , $y(f(x)=x^n$ تابع لرو او غواړو مشتق يې پيداکړو:

*ښوونه: موږ په لاندې توګه مخ ته ځو.*

*د بينوم جملې په بنسټ په هر $x_0$ ځای کې دا لاندې باورلري.*

$$\frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{f(x_0+h)-f(x_0)}{h}=\frac{(x_0+h)^n-x_0^n}{}$$

$$=\frac{\binom{n}{0}x_0^n+\binom{n}{1}x_0^{n-1}h+\binom{n}{2}x_0^{n-2}h^2+...+\binom{n}{n}h^n-x_0^n}{h}$$

$$=\frac{1}{h}\left(x_0^n+nx_0^{n-2}h+\frac{n(n-1)}{2}x_0^{n-2}h^2+...+h^n-x_0^n\right)$$

$$=nx_0^{n-1}+\frac{n(n-1)}{2}x_0^{n-2}h+...+h^{n-1}$$

د $h\to 0$ لپاره تابع $y=x^n$ د $x_0$ په هرځای کې، د لاندې مشتق سره، د مشتق قابليت لري:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-----------------------------------------------------------------------------------------------

$$(dy/dx)_{x=x_0} = f'(x) = nx^{n-1}$$

ددې پورته بېلګې بل ډول ښوونه دې د پوښتنې په ځبر وي.

د زنځیري توابعو مشتق

د $u$ تابع کېدی شي د $v$ تابع سره وتړل شي، که د د باندني تابع(ځنځیروني قاعده)، پېژند ورشو (دتعریف ساحه) $D(u)$ د دنني تابع د $W(v)$ سره ګډ توکي یا عناصر ولري.

ددې لپاره لیکو: $u^{\circ}v(x) = u(v(x))$، که د $f$ تابع د $y = f(x) = u(z)$ سره او $z = v(x)$ وي.

اوس د $x = x_0$ ځای کې د $y = f(g(x))$ تړلي یا ځنځیري تابع مشتقوړوالی څېړو:

$$f(x) = f[g(x)]$$
$$\Rightarrow f'(x) = f'(g) \quad . \quad g'(x)$$

دننني مشتق د باندنی مشتق( دادې ورپورته شي)

ددې لپاره نیسو چې:

1- د $g(x)$ دننني تابع د $x = x_0$ په ځای کې مشتقوړ ده. دانو بیا باید د $x_0$ په یوه معلوم تعریف شوي چاپیریال کی متمادي(نه پریکیدونکی) وي.

موږ لرو : $g(x+h) -> g(x_0)$ د $h -> 0$ لپاره.

همداسې $g(x_0+h) = g(x_0)+k$ داسې، چې $k -> 0$ د $h -> 0$ لپاره.

2- که د $y = f(z)$ دباندنی تابع په $z = z_0 g(x_0)$ کې د مشتق قابلیت ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

د $y = f(g(x))$ کمبنتویش کیدی شي په لاندې ډول ورکړ شي او بڼه(فورم) يې هم بدله شي :

$$\frac{\Delta y}{\Delta x} = \frac{f(g(x_0+h)) - f(g(x_0))}{h} = \frac{f(g(x_0+h)) - f(g(x_0))}{g(x_0+h) - g(x_0)}$$

$$= \frac{f(z_0+k) - f(z_0)}{k} \cdot \frac{g(x_0+h) - g(x_0)}{h}$$

که $h->0$ لاړه شي ( همداسې $k->0$ خواته ځي) نو دا اړیکی مشتق ته ځي:

$$\left(\frac{dy}{dx}\right)_{x=x_0} = \left(\frac{d(g(x))}{dx}\right)_{x=x_o} = \left(\frac{df(z)}{dz}\right)_{z=z_o=g(x_0)} \cdot \left(\frac{dg(x)}{dx}\right)_{x=x_0} \quad ;........(*)$$

$$\left(\frac{dy}{dx}\right)_{x=x_0} = \left(\frac{d(g(x))}{dx}\right)_{x=x_o} = \left(\frac{df(z)}{dz}\right)_{z=z_o=g(x_0)} \cdot \left(\frac{dg(x)}{dx}\right)_{x=x_0}$$

که چیرې د ځای په ځای(فیکس) ځای $x = x_0$ لپار بیرته $x$ نیسو، نو کیدی شي چې $(*)$ فرمول په لاندې لنډ ډول ورکړشي او د $y = (z)$ , $z = g(x)$ لپاره باور ولري:

$$\frac{dy}{dx} = \frac{\frac{dy}{dz}}{\frac{dx}{dz}} = \frac{dy}{dz} \cdot \frac{dz}{dx} ;......................................(**)$$

په پام کې دې وي، چې $\frac{dy}{dx}$ د $z = g(x)$ په ځای کې باید ترتیب( تنظیم) شي.

دا $(*)$ فرمول ځنځیري قاعده(لار،قانون) بلل کیږي او د پورته نیونو یا فرضیو سره باوري دی. دا په ساده ډول په یاد لرلی شو، ځکه چې ښی خوا د کینې خوا سره د فورمال dzزیاتیدلو له لارې منځ ته راغلي.

د پورته ښوونې لاس ته راوړنه دا لاندې جمله ده:

جمله :
زنځیري قاعده

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

لرو : $f(z)=f(g(x))$ ، نود $z=g(x)$ تابع په $x$ او د $y=f(z)$ تابع په $z=g(x)$ كي د مشتق قابليت لري يا مشتقوړ دی، نوترلی ورکړ شوی د $y=f(g(x))$ تابع هم په $x$ كې د مشتق قابليت لري او دا باوري كيږي.

$$\frac{dy}{dx}=\frac{\frac{dy}{dz}}{\frac{dx}{dz}}=\frac{\frac{df}{dg}}{\frac{dx}{dg}}==f\,'(g(x)).g\,'(x)$$

لنډ: $(fog)'(x)=f(g(x))'$

بېلګه:

د $f(x)=(x^2+2)^2$ مشتق ونيسئ.

$$f(x)=\left(x^2+2\right)^2$$

Substitution بدلون $+2 \quad f(z)=z^2 \Rightarrow f'(z)=2z \quad z'(x)=2x$

$$f'(x)=f'(z)\cdot z'(x)=2z\cdot 2x=2\left(x^2+2\right)\cdot 2x=\underline{\underline{4x^3+8x}}$$

د مشتق استعمال په طبيعي علومو

په رياضياتو كې زيات وخت توابع راوړل كيږي، چې د يوې متحولې( اووبنتوني) x په واک كې وي.

په طبيعي پوهنو كې زيات وخت توابع څيرو، چې د وخت په واک كې وي وي.

لکه په شکل کې د يوه توپ د غورځولو وهلې لار (دا وروسته روښانه کيږي)

(c) ketabton.com: The Digital Library





فعالیت:

ګران زده کوونکي دي د فزیک د درسونو له مخې د چټکتیا او بیړې تعریفونه ور کړي او د لار، وخت، چټکتیا او بیړې فرمولونه دي ولیکي.

بیلګه:

د یوه په برابرېوله بیړه ( تعجیل) غورځول شوي شي لپاره د پیل چټکتیا ( لومړنی سرعت) $v_0 = 4\frac{m}{s}$ او $a = 1{,}8\frac{m}{s^2}$ بیړې(تعجیل) سره د لار-وخت- قانون په لاندې ډول دی:

$$s(t) = \frac{1}{2}at^2 + v_0 t$$

حل: د پورته ورکړشوي د $v_0$ ارزښت لپاره باور لري: S(t) = 0,9t²+4t

( t په (ثانیه)، s(t) په m (متر) )

منځنی چټکتیا ( سرعت) $\frac{\Delta s}{\Delta t}$ ده) لحظوی(سملاسي) چټکتیا په لاندې ډول ده:

$$\lim_{\Delta \to 0} \frac{\Delta s}{\Delta t} = \frac{ds}{dt} = v$$

$$v = s'(t) = 1{,}8t + 4$$



(c) ketabton.com: The Digital Library



---

په v-t - دیاګرام کې یوه کرښه لاس ته راځي، دا په دې معنی چې چټکتیا په برابر $\frac{\Delta v}{\Delta t}$ ډول زیاتیږي. دا دلته ثابته ځګېدنه ده او $a = 1,8\frac{m}{s^2}$ بیړه(تعجیل) ده.




د بیړې یا تعجیل لپاره دا لاندې مساوات صدق کوي:

$$v'(t) = \lim_{\Delta t \to 0} \frac{\Delta v}{\Delta t} = a$$




پام : د یوه برابرډوله په بیړه (تعجیلي) خوزښت لپاره لاندې باور لري:

$$a(t) = v'(t) = a \qquad v(t) = s'(t) = at + v_0 \qquad s(t) = \frac{1}{2}at^2 + v_0 t$$

د یوې چټکتیا ( سرعت) v لپاره د وخت پسې د لار مشتق لپاره $v(t)=s'(t)$ لرو. د $s'(t)$ لپاره داسې $v(t) = s'(t)$. هم لیکو.

فعالیت:۱ ) د یوه خوزنده تن یا جسم د لار-وخت-دیاګرام ورکړ شوی.

الف: دا خوزښت تشریح کړی.

ب : دی پورې اړونده د چټکتیا – وخت – دیا ګرام وکاږی.



(c) ketabton.com: The Digital Library



---

۲ ) یوه تیره د پیل چټکتیا $v_0 = 7\frac{m}{s}$ سره عمودي ( ولاړه)پورته غورځول کیږي.

د لار-وخت-قانون دی: $s(t) = v_0 \cdot t - \frac{1}{2} g \cdot t^2$ د $g = 10\frac{m}{s^2}$ (را تولي (ګردي شوي )سره.

الف) د کوم وخت وروسته د تیرې چټکتیا (سرعت) صفر دی؟

ب) خورا جګ د میل جګوالی وشمیرئ.




۳ ) تابع د یوه خوزښت د لار-وخت-دیاګرام ښایي.

الف) د ورځني ژوند څخه یوه بیلګه ورکړئ، د هغې لپاره چې دا تلنه تیک وي.

د منحني تلنه د $t > 3$ لپاره فزیکي څه مفهوم لري؟

ب ) د خوزښت لپاره د لار-وخت-دیاګرام په لاندې ډول دی.

$$s(t) = \frac{1}{2} a \cdot t^2 + v_0 \cdot t$$

a او $v_0$ وټاکئ

پ ) د اړونده بیړې – وخت-دیاګرم وکاږئ او دا تشریح کړئ.

یوه منفي چټکتیا (سرعت) څه معنا لري؟

۴ ) یوتن(جسم) په پورته ازاده غورځونه کې داسې حرکت کوي ،چې د t وخت کې $S(t)= 5.t^2$ لار وهي.

په وختونو $t=1;2;3$ کې لحظوي چټکتیا(سرعت) وښایی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

۴ – حل:

لحضوي جټکتیا د سملاسي تغیرارزښت سره په دې لاندې معنا دی:

$$t=1:\ \frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{s(1+\Delta x)-s(1)}{\Delta x}=10+5\Delta x\Rightarrow$$

د $\Delta x\to 0$ لپاره باور لري: $10+5\Delta x\to 10$

$$t=2:\ \frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{s(2+\Delta x)-s(2)}{\Delta x}=20+5\Delta x\Rightarrow$$

د $\Delta x\to 0$ لپاره باور لري:: $20+5\Delta x\to 20$

$\Delta x\to 0$

$$t=3:\ \frac{\Delta y}{\Delta x}=\frac{s(3+\Delta x)-s(3)}{\Delta x}=30+5\Delta x\Rightarrow f$$

د $\Delta x\to 0$ لپاره باور لري $30+5\Delta x\to 30$

تمرین : لاندې د $f(x)=-\frac{1}{288}x^3+\frac{1}{16}x^2\,;\,x>0$ تابع ګراف او په ورنږدې توګه د فوټبال میدان کې د توپ الوتنې منحني(کږه) ښایي، چې لاندې ځیره لري.



لاندې پوښتنې ځواب کړئ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-----------------------------------------------------------------------------------------------

الف:توپ کوم خورا جګ( ماکسیمال) جګوالی لري او د وهلتکي(شوټ شوي ټکي) څخه کوم واټن لري؟

ب : د توپ وهلتکي (شوټ شوي ټکي)څخه توپ څومره لرې بیرته ځمکې ته راځي؟

پ : د لوبې د دفاع دېوال د توپ وهنې ځای څخه ۹ متره لرې او ۲ متره جګ دی. ایا توپ له دې څخه جګ الوزي؟

ت : توپ د تور لاین( د x محور ) څخه په ۲ متره جګوالي الوزي. له ګول څخه په کوم لرېوالي دا ازاده شوټ وهل شوی دی؟

## تانجنت او نورمال.

### تمرینونه III :

د **f(x)** ګراف تانجنت په ټکي **P( $x_0$ | f($x_0$) ).** کې:

1 - $f(x) = x^3 - 6x^2 + 9x \qquad x_0 = 2$

2 - $f(x) = \frac{1}{4}x^3 - \frac{9}{4}x^2 + \frac{15}{4}x + \frac{9}{4} \qquad x_0 = 2$

3 - $f(x) = \frac{1}{2}x^3 - \frac{1}{2}x^2 - 4x + 4 \qquad x_0 = -1$

4 - $f(x) = x^3 + 3x^2 - 2 \qquad x_0 = 1$

5 - $f(x) = \frac{1}{2}x^3 - \frac{1}{2}x^2 - \frac{5}{2}x + 3 \qquad x_0 = 1$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

6 - $f(x) = x^3 - x^2 - 5x - 2 \qquad x_0 = -\frac{3}{2}$

7 - $f(x) = \frac{1}{4}x^3 - \frac{5}{4}x^2 + \frac{1}{2}x + 2 \qquad x_0 = 3$

8 - $f(x) = x^3 - \frac{3}{2}x^2 - 6x + 2 \qquad x_0 = 1$

9 - $f(x) = \frac{1}{2}x^3 - \frac{1}{2}x^2 - 4x + 4 \qquad x_0 = 0$

10 - $f(x) = \frac{1}{3}x^3 - \frac{1}{3}x^2 - 4x + 4 \qquad x_0 = 1$

## حلونه

تمرینونه مشتقشمیرنه III

نتیجې او مفصل حلونه

نتیجې:

لومړی:

$$f(x) = x^3 - 6x^2 + 9x \qquad x_0 = 2 \Rightarrow P_0(2|2) \qquad t(x) = -3x + 8$$

دویم:

$$f(x) = \frac{1}{4}x^3 - \frac{9}{4}x^2 + \frac{15}{4}x + \frac{9}{4} \qquad x_0 = 2 \Rightarrow$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\Rightarrow P_0\left(2 \;\middle|\; \frac{11}{4} = 2{,}75\right) \qquad t(x) = -\frac{9}{4}x + \frac{29}{4}$$

دریم:

$$f(x) = \frac{1}{2}x^3 - \frac{1}{2}x^2 - 4x + 4 \qquad x_0 = -1 \Rightarrow P_0(-1|\,7) \qquad t(x) = -\frac{3}{2}x + \frac{11}{2}$$

څلورم:

$$f(x) = x^3 + 3x^2 - 2 \qquad x_0 = 1 \Rightarrow P_0(1|\,2) \qquad t(x) = 9x - 7$$

پنځم:

$$f(x) = \frac{1}{2}x^3 - \frac{1}{2}x^2 - \frac{5}{2}x + 3 \qquad x_0 = 1 \Rightarrow P_0\left(1 \;\middle|\; \frac{1}{2} = 0{,}5\right) \qquad t(x) = -2x + \frac{5}{2}$$

شپږم:

$$f(x) = x^3 - x^2 - 5x - 2 \qquad x_0 = -\frac{3}{2} \Rightarrow P_0\left(-\frac{3}{2} \;\middle|\; -\frac{1}{8}\right) \qquad t(x) = \frac{19}{4}x + 7$$

اوم:

$$f(x) = \frac{1}{4}x^3 - \frac{5}{4}x^2 + \frac{1}{2}x + 2 \qquad x_0 = 3 \Rightarrow P_0(3\,|-1) \qquad t(x) = -\frac{1}{4}x - \frac{1}{4}$$

اتم:

$$f(x) = x^3 - \frac{3}{2}x^2 - 6x + 2 \qquad x_0 = 1 \Rightarrow P_0\left(1 \;\middle|\; -\frac{9}{2}\right) \qquad t(x) = -6x + \frac{3}{2}$$

نهم:

$$f(x) = \frac{1}{2}x^3 - \frac{1}{2}x^2 - 4x + 4 \qquad x_0 = 0 \Rightarrow P_0(0\,|\,4) \qquad t(x) = -4x + 4$$

لسم:

$$f(x) = \frac{1}{3}x^3 - \frac{1}{3}x^2 - 4x + 4 \qquad x_0 = 1 \Rightarrow P_0(1\,|\,0) \qquad t(x) = -\frac{11}{3}x + \frac{11}{3}$$

## مفصل حلونه1

لومړی:

شمیرنه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$$f(x) = x^3 - 6x^2 + 9x \qquad x_0 = 2 \qquad t(x) = f'(x_0)(x - x_0) + f(x_0)$$

$$f'(x) = 3x^2 - 12x + 9 \Rightarrow f'(x_0) = f'(2) = 12 - 24 + 9 = -3$$

$$f(x_0) = f(2) = 8 - 24 + 18 = 2 \Rightarrow \underline{\underline{P_0(2|\,2)}}$$

$$t(x) = -3(x - 2) + 2 = -3x + 6 + 2 = \underline{\underline{-3x + 8}}$$

گرافونه

$$f(x) = x^3 - 6x^2 + 9x \qquad x_0 = 2 \Rightarrow P_0(2|\,2) \qquad t(x) = -3x + 8$$




دویم: شمیرنه:

$$f(x) = \frac{1}{4}x^3 - \frac{9}{4}x^2 + \frac{15}{4}x + \frac{9}{4} \qquad x_0 = 2 \qquad t(x) = f'(x_0)(x - x_0) + f(x_0)$$

$$f'(x) = \frac{3}{4}x^2 - \frac{9}{2}x + \frac{15}{4} \Rightarrow f'(x_0) = f'(2) = \frac{3}{4}\cdot 4 - \frac{9}{2}\cdot 2 + \frac{15}{4} = \frac{12}{4} - \frac{36}{4} + \frac{15}{4} = -\frac{9}{4}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$f(x_0) = f(2) = \frac{1}{4}\cdot 8 - \frac{9}{4}\cdot 4 + \frac{15}{4}\cdot 2 + \frac{9}{4} = \frac{8}{4} - \frac{36}{4} + \frac{30}{4} + \frac{9}{4} = \frac{11}{4} \Rightarrow$$

$$\Rightarrow P_0\left(2 \,\middle|\, \frac{11}{4} = 2{,}75\right)$$

$$t(x) = -\frac{9}{4}(x-2) + \frac{11}{4} = -\frac{9}{4}x + \frac{18}{4} + \frac{11}{4} = -\frac{9}{4}x + \frac{29}{4}$$

گرافونه

$$f(x) = \frac{1}{4}x^3 - \frac{9}{4}x^2 + \frac{15}{4}x + \frac{9}{4} \qquad x_0 = 2 \Rightarrow$$

$$\Rightarrow P_0\left(2 \,\middle|\, \frac{11}{4} = 2{,}75\right) \qquad t(x) = -\frac{9}{4}x + \frac{29}{4}$$




دریم: شمیرنه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$$f(x)=\frac{1}{2}x^3-\frac{1}{2}x^2-4x+4 \qquad x_0=-1 \qquad t(x)=f'(x_0)(x-x_0)+f(x_0)$$

$$f'(x)=\frac{3}{2}x^2-x-4 \Rightarrow f'(x_0)=f'(-1)=\frac{3}{2}+1-4=\frac{3}{2}+\frac{2}{2}-\frac{8}{2}=-\frac{3}{2}$$

$$f(x_0)=f(-1)=\frac{1}{2}\cdot(-1)-\frac{1}{2}\cdot 1-4\cdot(-1)+4=-\frac{1}{2}-\frac{1}{2}+\frac{8}{2}+\frac{8}{2}=7 \Rightarrow \underline{\underline{P_0(-1|7)}}$$

$$t(x)=-\frac{3}{2}(x+1)+7=-\frac{3}{2}x-\frac{3}{2}+\frac{14}{2}=\underline{\underline{-\frac{3}{2}x+\frac{11}{2}}}$$

ګرافونه

$$f(x)=\frac{1}{2}x^3-\frac{1}{2}x^2-4x+4 \qquad x_0=-1 \Rightarrow P_0(-1|7) \qquad t(x)=-\frac{3}{2}x+\frac{11}{2}$$




خلورم: شمیرنه:

$$f(x)=x^3+3x^2-2 \qquad x_0=1 \qquad t(x)=f'(x_0)(x-x_0)+f(x_0)$$

$$f'(x)=3x^2+6x \Rightarrow f'(x_0)=f'(1)=3+6=9$$

$$f(x_0)=f(1)=1^3+3\cdot 1^2-2=1+3-2=2 \Rightarrow \underline{\underline{P_0(1|2)}}$$

$$t(x)=9(x-1)+2=9x-9+2=\underline{\underline{9x-7}}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

ګراف

$$f(x) = x^3 + 3x^2 - 2 \qquad x_0 = 1 \Rightarrow P_0(1|\,2) \qquad t(x) = 9x - 7$$




پنځم: شمیرنه:

$$f(x) = \frac{1}{2}x^3 - \frac{1}{2}x^2 - \frac{5}{2}x + 3 \qquad x_0 = 1 \qquad t(x) = f'(x_0)(x - x_0) + f(x_0)$$

$$f'(x) = \frac{3}{2}x^2 - x - \frac{5}{2} \Rightarrow f'(x_0) = f'(1) = \frac{3}{2} - 1 - \frac{5}{2} = -2$$

$$f(x_0) = f(1) = \frac{1}{2} - \frac{1}{2} - \frac{5}{2} + 3 = -\frac{5}{2} + \frac{6}{2} = \frac{1}{2} \Rightarrow \underline{\underline{P_0\left(1\,\middle|\,\frac{1}{2}\right)}}$$

$$t(x) = -2(x-1) + \frac{1}{2} = -2x + 2 + \frac{1}{2} = \underline{\underline{-2x + \frac{5}{2}}}$$

ګراف

$$f(x) = \frac{1}{2}x^3 - \frac{1}{2}x^2 - \frac{5}{2}x + 3 \qquad x_0 = 1 \Rightarrow P_0\left(1\,\middle|\,\frac{1}{2} = 0,5\right) \qquad t(x) = -2x + \frac{5}{2}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library






شپږم: شمیرنه:

$$f(x)=x^3-x^2-5x-2 \quad x_0=-\frac{3}{2} \qquad t(x)=f'(x_0)(x-x_0)+f(x_0)$$

$$f'(x)=3x^2-2x-5 \Rightarrow f'(x_0)=f'\left(-\frac{3}{2}\right)=3\cdot\frac{9}{4}-2\cdot\left(-\frac{3}{2}\right)-5=\frac{27}{4}+\frac{12}{4}-\frac{20}{4}=\frac{19}{4}$$

$$f(x_0)=f\left(-\frac{3}{2}\right)=-\frac{27}{8}-\frac{9}{4}+\frac{15}{2}-2=-\frac{27}{8}-\frac{18}{8}+\frac{60}{8}-\frac{16}{8}=-\frac{1}{8}\Rightarrow \underline{\underline{P_0\left(-\frac{3}{2}\,\middle|\,-\frac{1}{8}\right)}}$$

$$t(x)=\frac{19}{4}\left(x+\frac{3}{2}\right)-\frac{1}{8}=\frac{19}{4}x+\frac{57}{8}-\frac{1}{8}=\frac{19}{4}x+\frac{56}{8}=\underline{\underline{\frac{19}{4}x+7}}$$

گراف

$$f(x)=x^3-x^2-5x-2 \quad x_0=-\frac{3}{2}\Rightarrow P_0\left(-\frac{3}{2}\,\middle|\,-\frac{1}{8}\right) \qquad t(x)=\frac{19}{4}x+7$$

:

(c) ketabton.com: The Digital Library






اووم: شميرنه:

$$f(x) = \frac{1}{4}x^3 - \frac{5}{4}x^2 + \frac{1}{2}x + 2 \qquad x_0 = 3 \qquad t(x) = f'(x_0)(x - x_0) + f(x_0)$$

$$f'(x) = \frac{3}{4}x^2 - \frac{5}{2}x + \frac{1}{2} \Rightarrow f'(x_0) = f'(3) = \frac{27}{4} - \frac{15}{2} + \frac{1}{2} = \frac{27}{4} - \frac{30}{4} + \frac{2}{4} = -\frac{1}{4}$$

$$f(x_0) = f(3) = \frac{27}{4} - \frac{45}{4} + \frac{3}{2} + 2 = \frac{27}{4} - \frac{45}{4} + \frac{6}{4} + \frac{8}{4} = -\frac{4}{4} - 1 \Rightarrow \underline{\underline{P_0(3|-1)}}$$

$$t(x) = -\frac{1}{4}(x - 3) - 1 = -\frac{1}{4}x + \frac{3}{4} - 1 = -\frac{1}{4}x + \frac{3}{4} - \frac{4}{4} = \underline{\underline{-\frac{1}{4}x - \frac{1}{4}}}$$

ګراف

$$f(x) = \frac{1}{4}x^3 - \frac{5}{4}x^2 + \frac{1}{2}x + 2 \qquad x_0 = 3 \Rightarrow P_0(3|-1) \qquad t(x) = -\frac{1}{4}x - \frac{1}{4}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library






اتم: شمیرنه:

$$f(x) = x^3 - \frac{3}{2}x^2 - 6x + 2 \qquad x_0 = 1 \qquad t(x) = f'(x_0)(x - x_0) + f(x_0)$$

$$f'(x) = 3x^2 - 3x - 6 \Rightarrow f'(x_0) = f'(1) = 3 - 3 - 6 = -6$$

$$f(x_0) = f(1) = 1 - \frac{3}{2} - 6 + 2 = \frac{2}{2} - \frac{3}{2} - \frac{12}{2} + \frac{4}{2} = -\frac{9}{2} \Rightarrow \underline{\underline{P_0\left(1 \middle| -\frac{9}{2}\right)}}$$

$$t(x) = -6(x - 1) - \frac{9}{2} = -6x + 6 - \frac{9}{2} = -6x + \frac{12}{2} - \frac{9}{2} = \underline{\underline{-6x + \frac{3}{2}}}$$

ګراف

$$f(x) = x^3 - \frac{3}{2}x^2 - 6x + 2 \qquad x_0 = 1 \Rightarrow P_0\left(1 \middle| -\frac{9}{2} = -4,5\right) \qquad t(x) = -6x + \frac{3}{2}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---




نهم: شمیرنه:

$f(x) = \frac{1}{2}x^3 - \frac{1}{2}x^2 - 4x + 4 \qquad x_0 = 0 \qquad t(x) = f'(x_0)(x - x_0) + f(x_0)$

$f'(x) = \frac{3}{2}x^2 - x - 4 \Rightarrow f'(x_0) = f'(0) = -4$

$f(x_0) = f(0) = 4 \Rightarrow \underline{\underline{P_0(0|-4)}}$

$t(x) = -4(x - 0) + 4 = \underline{\underline{-4x + 4}}$

گراف

$f(x) = \frac{1}{2}x^3 - \frac{1}{2}x^2 - 4x + 4 \qquad x_0 = 0 \Rightarrow P_0(0|4) \qquad t(x) = -4x + 4$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---




لسم: شمیرنه:

$$f(x)=\frac{1}{3}x^3-\frac{1}{3}x^2-4x+4 \qquad x_0=1 \qquad t(x)=f'(x_0)(x-x_0)+f(x_0)$$

$$f'(x)=x^2-\frac{2}{3}x-4 \Rightarrow f'(x_0)=f'(1)=1-\frac{2}{3}-4=\frac{3}{3}-\frac{2}{3}-\frac{12}{3}=-\frac{11}{3}$$

$$f(x_0)=f(1)=\frac{1}{3}-\frac{1}{3}-4+4=\frac{1}{3}-\frac{1}{3}-\frac{12}{3}+\frac{12}{3}=0 \Rightarrow \underline{\underline{P_0(1|0)}}$$

$$t(x)=-\frac{11}{3}(x-1)+0=\underline{\underline{-\frac{11}{3}x+\frac{11}{3}}}$$

گرافونه:

$$f(x)=\frac{1}{3}x^3-\frac{1}{3}x^2-4x+4 \qquad x_0=1 \Rightarrow P_0(1|0) \qquad t(x)=-\frac{11}{3}x+\frac{11}{3}$$

.

.

(c) ketabton.com: The Digital Library






## مشتقشمېرنه VII

لومړی: ورکړشوي تابع: $\text{ı}\; f(x) = \frac{1}{9}x^3 - x \,;\, x \in \mathbb{R}$

الف- f(x) په کوم ځای کې جګېدنه 2 لري؟

ب- د f(x) جګېدنه په x = 1,5 ځای کی 0,25- ده.

د همدې جګېدنې سره بې له شمېرنې بل ځای ورکړی.

د خپل ګومان په هکله دلیل راوړی

پ - f(x) په کومو ټکو کې پروت یا افقي تانجنت لري؟ مساوات یې ورکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

ت - په سرچینه کې په f(x) باندې تانجنت وټاکئ

ټ - په f(x) باندې تانجنت د P ( u | f(u) ). په ټکي کې وټاکئ

ث - کومه کرښه f(x) په N ( 3 | 0 ) ټکي کې عمود غوځوي؟

دویم: – $f(x) = \frac{x^4}{4} - \frac{3}{4}x^2 - 1;\ x \in \mathbb{R}$ تابع ورکړ شوې

الف – کرکتریستیکي یا خوبیز ټکي و ټاکئ او اړونده تانجنت یې ورکړئ.

ب- په f(x) باندې تانجنت په ی x = 1 او x = -1 د y - محوذ غوځوي یا قطع کوي د دې پوښتنې دلیل راوړئ؟

دریم _ $f(x) = -x^4 + 2x^3;\ x \in \mathbb{R}$ ؛ تابع ورکړ شوې

الف - f(x) د x محور سره او د ټکو په هکله چې هلته افقي تانجنت لري مطالعه کړئ.

ب- t(x) په f(x) د P ( 1 | f(1) ) په ټکي تانجنت دی.

د تانجنت مساوات وټاکئ. د t(x) غوځتکئ د f(x) سره وټاکئ.

پ – په کومو ټکو کې f(x) د 1/8 جګیدنې سره عمود لري؟ د عمود مساوات ورکړئ.

څلور – $f(x) = x^3 - 6x^2 + 9x;\ x \in \mathbb{R}$ ؛ تابع ورکړ شرې ده.

الف- f(x) په کرښیزو ضریبونو تجزیه کړئ او ګراف یې وکاږئ.

ب – په f(x) باندې تانجنتونو مساوات په x = 2 کې وټاکئ او دا تانجنت د الف په وضعیه قیمتسیستم کې رسم کړئ..

پ – ټکئ P ( u | f(u) ) داسې وټاکئ، چې په P د f(x) په تانجنت د f(x) په سرجینې تانجنت سره غبرګ یعنې موازي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

ت – په کوم ځاي کې f(x) خورا کوچنی تانجنت لرئ؟

پنځم- یوه تیګه د v0 = 7 m/s پیل چکتیا یا سرعت سره عمود پورته غورځول کیږي.

د لار-وخت دیاګرام دی: $s(t) = v_0 \cdot t - \frac{1}{2} g \cdot t^2$ د $g = 10 \frac{m}{s^2}$ سره.

الف- په کوم وختt کې د تیګې جګوالی صفر دی؟

ب- د جګېدنې ماکسیمال جګوالی وشمېرئ.

# حلونه

## مشتقشمرنه VII

## نتیجې او مفصل حلونه

## مفصل حلونه:

لومړی:

الف – $f(x) = \frac{1}{9}x^3 - x; f'(x) = \frac{1}{3}x^2 - 1$

جګوالی پهx0 کې ارزښت 2 لرئ

$$\Rightarrow f'(x_0) = 2 \Leftrightarrow \frac{1}{3}x_0^2 - 1 = 2 \Rightarrow \underline{x_{01/2} = \pm 3}$$

تابع دF(x) $x_{1/2} = \pm 3$ په ځایونو کې جګیدنه 2 لري.

ب - $f'(x) = \frac{1}{3}x^2 - 1$ یو پارابول او له دې امله محور سیومتري دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

له $f'(1,5)=0,25$ څخه $f'(-0,25)=-0,25$ لاس ته راځي.

د$f(x)$ $x_{1/2} = \pm 1,5$ په ځای کې0,25- جګیدنه لري.

پ–په $f(x)$ یو پروت یا افقي تانجنت په ټکو کې پروت دی، جې هلته جګوالی صفر وي.

$$f'(x) = 0 \Leftrightarrow \frac{1}{3}x^2 - 1 = 0 \Rightarrow x_{1/2} = \pm\sqrt{3}$$
$$f\left(\sqrt{3}\right) = -\frac{2}{3}\sqrt{3}\,;\, f\left(-\sqrt{3}\right) = \frac{2}{3}\sqrt{3} \Rightarrow P\left(\sqrt{3} \mid -\frac{2}{3}\sqrt{3}\right);\, Q\left(-\sqrt{3} \mid \frac{2}{3}\sqrt{3}\right)$$

تانجنتونه کرښې دي، د x - محور سره غبرګې ځغلي.

$$t_1(x) = -\frac{2}{3}\sqrt{3}\,;\, t_2(x) = \frac{2}{3}\sqrt{3}$$

ت –

$$f(x) = \frac{1}{9}x^3 - x\,;\, f'(x) = \frac{1}{3}x^2 - 1$$

په سرچینه کې د تانجنت مساوات: x0 = 0

$$t(x) = f'(x_0)(x - x_0) + f(x_0)$$
$$f'(x_0) = f'(0) = -1;\, f(x_0) = f(0) = 0$$
$$\Rightarrow t(x) = -1(x - 0) + 0 = \underline{\underline{-x}}$$

ټ –

$$f(x) = \frac{1}{9}x^3 - x\,;\, f'(x) = \frac{1}{3}x^2 - 1$$

د تانجنت مساوات د $P(u;f(u))$ په ټکي کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$$t(x) = f'(u)(x-u) + f(u)$$

$$f'(u) = \frac{1}{3}u^2 - 1;\ f(u) = \frac{1}{9}u^3 - u$$

$$t(x) = \left(\frac{1}{3}u^2 - 1\right)(x-u) + \frac{1}{9}u^3 - u = \left(\frac{1}{3}u^2 - 1\right)x - \frac{2}{9}u^3$$

ث – کرښه، چې f(x) په (0 | 3 ) N کې غوڅوي، په دې ټکي کې عمود ده.

$$f(x) = \frac{1}{9}x^3 - x;\ f'(x) = \frac{1}{3}x^2 - 1;\ N(3|0) \Rightarrow x_0 = 3$$

$$n(x) = -\frac{1}{f'(x_0)}(x - x_0) + f(x_0)$$

$$-\frac{1}{f'(x_0)} = -\frac{1}{f'(3)} = -\frac{1}{2};\ f(x_0) = f(3) = 0$$

$$\Rightarrow n(x) = -\frac{1}{2}(x-3) + 0 = -\frac{1}{2}x + \frac{3}{2}$$

گراف : Die Graphen:



(c) ketabton.com: The Digital Library



---

دويم: الف- کرکتریستیک یا خوي ټاکونکي ټکي صفرځايونه دي، چې په دې ټکو کې د تانجنتونو جګوالی دی ، په هغو ياکومو کې چې پروت يا افقي تانجنت شته وي.

$$f(x) = \frac{x^4}{4} - \frac{3}{4}x^2 - 1;\ f'(x) = x^3 - \frac{3}{2}x$$

صفرځايونه: $f(x) = 0 \Leftrightarrow \frac{x^4}{4} - \frac{3}{4}x^2 - 1 = 0$

بي- یا دوه مربعيز مساوات.

د په ځاي اينوونې Substitution له لارې حل يا اوبيونه:

$$x^2 = z \Rightarrow f(z) = \frac{z^2}{4} - \frac{3}{4}z - 1$$

$$f(z) = 0 \Leftrightarrow \frac{z^2}{4} - \frac{3}{4}z - 1 = 0 \Rightarrow z_1 = 4;\ z_2 = -1$$

د Z2 لپاره حل نه شته.

$$z_1 = 4 \Rightarrow x^2 = 4 \Rightarrow x_{1/2} = \pm 2 \Rightarrow \underline{\underline{P_{x1}(2|0);\ P_{x2}(-2|0)}}$$

$$f'(2) = 2^3 - \frac{3}{2}\cdot 2 = \underline{\underline{5}};\ f'(-2) = (-2)^3 - \frac{3}{2}\cdot(-2) = -8 + 3 = \underline{\underline{-5}}$$

د پروت تانجنت سره ټکي.

$$f'(x) = 0 \Leftrightarrow x^3 - \frac{3}{2}x = 0 \Rightarrow x_1 = 0;\ x_{2/3} = \pm\sqrt{\frac{3}{2}}$$

$$P_2(0|-1);\ P_2\left(\sqrt{\frac{3}{2}}\,|\,-\frac{25}{16}\right);\ P_3\left(-\sqrt{\frac{3}{2}}\,|\,-\frac{25}{16}\right)$$

$$f(x) = \frac{x^4}{4} - \frac{3}{4}x^2 - 1;\ f'(x) = x^3 - \frac{3}{2}x$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

تانجنت په x = 1 او x = -1 کې.

$$t(x) = f'(x_0)(x - x_0) + f(x_0)$$

$$t_1(x) = f'(1)(x-1) + f(1)\,;\; t_2(x) = f'(-1)(x+1) + f(-1)$$

د ټکي سيومتري له امله

$$f'(1) = -\frac{1}{2}\,;\; f'(-1) = -f'(1) = \frac{1}{2}$$

د محور سيومتري له امله

$$f(1) = -\frac{3}{2}\,;\; f(-1) = f(1) = -\frac{3}{2}$$

$$t_1(x) = -\frac{1}{2}(x-1) - \frac{3}{2} = -\frac{1}{2}x - 1$$

$$t_2(x) = \frac{1}{2}(x+1) - \frac{3}{2} = \frac{1}{2}x - 1$$

دواړه تانجنتونه د y محور په ټکي $P_y\,(0;-1)$ کې غوڅوي.
ګرافونه:



(c) ketabton.com: The Digital Library



---

دريم: الف- $f(x) = -x^4 + 2x^3 \,;\, f'(x) = -4x^3 + 6x^2$

صفرځايونه : $f(x) = 0 \Leftrightarrow -x^4 + 2x^3 = 0 \Rightarrow x_{1/2/3} = 0 \,;\, x_4 = 2$

$\underline{\underline{P_{x1/2/3}(0|0)}}$ درېواره صفرځاي او $\underline{\underline{P_{x4}(2|0)}}$

پروت يا افقي تانجنتونه:

$$f'(x) = 0 \Leftrightarrow -4x^3 + 6x^2 = 0 \Rightarrow x_{1/2} = 0 \,;\, x_3 = \frac{3}{2}$$

$$f(0) = 0 \,;\, f\left(\frac{3}{2}\right) = \frac{27}{16} \Rightarrow \underline{\underline{P_{1/2}(0|0) \,;\, P_3\left(\frac{3}{2} \middle| \frac{27}{16}\right)}}$$

ب –

$$f(x) = -x^4 + 2x^3 \,;\, f'(x) = -4x^3 + 6x^2 \,;\, P(1|f(1))$$

پهf(x) تانجنت د x0 = 1 ټکي کې د f'(1) = 2 او f(1) = 1 سره.

له دې لاس ته راځي: t(x) = 2x -1

د t(x)غوځېکی د f(x) سره

$$f(x) = t(x) \Leftrightarrow -x^4 + 2x^3 = 2x - 1 \Leftrightarrow -x^4 + 2x^3 - 2x + 1 = 0$$

د P(1;1) سره ځاي په ځاي کونې يا اينوونې سره ډبل صفرځايونه

$$x_{1/2} = 1 \Rightarrow (x-1)^2 = x^2 - 2x + 1 \,:$$

## پولينوموېش:

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$$\left(-x^4+2x^3 \quad -2x+1\right):\left(x^2-2x+1\right)=-x^2+1$$

$$\underline{-\left(-x^4+2x^3-x^2\right)}$$

$$x^2-2x+1$$

$$\underline{-\left(x^2-2x+1\right)}$$

$$-x^2+1=0 \Rightarrow x_{3/4}=\pm 1$$

Q(-1;-3) <= F(-1) = -3 د t(x) د fx) سره یو بل غوځتکی دی.

پ-

$$f(x)=-x^4+2x^3\,;\,f'(x)=-4x^3+6x^2$$

$$n(x)=-\frac{1}{f'(x_0)}(x-x_0)+f(x_0)$$

د عمود جګوالی دی:

$$\frac{1}{8}\Rightarrow-\frac{1}{f'(x_0)}=\frac{1}{8}$$

$$\Leftrightarrow f'(x_0)=-8\Leftrightarrow-4x^3+6x^2=-8\Leftrightarrow-4x^3+6x^2+8=0$$

X = 2 د $-4x^3+6x^2+8=0$ یو حل دی (د ازماینت له لارې پیدا شوی)

هورنر Horner

$$\begin{array}{ccccc} & -4 & 6 & 0 & 8 \\ x=2 & & \underline{-8} & \underline{-4} & \underline{-8} \\ & -4 & -2 & -4 & 0 \end{array} \Rightarrow \begin{array}{l} -4x^2-2x-4=0 \\ p=\frac{1}{2}\,;\,q=1\Rightarrow D<0 \end{array}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل حل نه شته.

$$x = 2 \Rightarrow x_0 = 2 \Rightarrow n(x) = \frac{1}{8}(x-2) + \underbrace{f(2)}_{0} \Rightarrow n(x) = \underline{\underline{\frac{1}{8}x - \frac{1}{4}}}$$

گرافونه:




ځلورم:

الف-

$$f(x) = x^3 - 6x^2 + 9x$$
$$= x\ \underbrace{(x^2 - 6x + 9)}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---




دپینوم دویم فرمول

$$= x(x-3)^2$$

$$\Rightarrow P_{x1}(0|0);$$

$$P_{x2/3}(3|0)$$

مماس یا لمستکی

ب-




$$f(x) = x^3 - 6x^2 + 9x$$

$$f'(x) = 3x^2 - 12x + 9$$

$$x_0 = 2$$

$$t(x) = f'(x_0)(x - x_0) + f(x_0)$$

$$f'(2) = -3$$

$$f(2) = 2$$

$$\Rightarrow t(x) = -3(x-2) + 2$$

$$= \underline{\underline{-3x + 8}}$$

پ –

$$f(x) = x^3 - 6x^2 + 9x;\ f'(x) = 3x^2 - 12x + 9$$

تانجنت په سرچینه کې $f'(0) = 9$ جګوالی لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې سره غبرګ هر تانجنت همدا یا برابر جګوالی لري پس هر په P(u;f(u)) ټکي همز

$$f'(u) = 9 \Leftrightarrow 3u^2 - 12u + 9 = 9 \Rightarrow u_1 = 0;\ u_2 = 4$$
$$u_1 = 0 \Rightarrow f(u_1) = f(0) = 0 \Rightarrow \underline{\underline{P_1(0|0)}}$$
$$u_2 = 4 \Rightarrow f(u_2) = f(4) = 4 \Rightarrow \underline{\underline{P_2(4|4)}}$$

ت –

$f(x) = x^3 - 6x^2 + 9x;\ f'(x) = 3x^2 - 12x + 9$

د $f'(x)$ د $f(x)$ جګېدنه ده، دا پورته لور ته واز پارابول دی.

د هغه مینیموم د هغه غوځېکی یا د تقاطع ټکی دی، هلته $f'(x)$ یو پروت یا افقي تانجنت لري.

شرطونه: $f''(x) = 0$

$F''(x) = 6x - 12 = 0 \Rightarrow x = 2$

د $x = 2$ په ځای کې $f(x)$ خورا کمه جګېدنه لري.

$f(2) = 2 \Rightarrow$

په $P(2;2)$ ځای کې $f(x)$ خورا کمه جګېدنه لري.

هغه هلته ارزښت $f(2) = -3$ لري.

پنځم:

الف - $s(t) = v_0 \cdot t - \frac{1}{2} g \cdot t^2$ د $v_0 = 7\frac{m}{s}$ $: g = 10\frac{m}{s^2}$ سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$v(t) = s'(t) = v_0 - gt$$
$$v(t) = 0 \Leftrightarrow v_0 - gt = 0 \Rightarrow t = 0{,}7\ s$$

وروسته له 0,7S تیګه v(t)=0 سرعت لري

ب – د میلان یا جګېدنې خورا لوي یا ماکسیمال جګوالی

کښته لور ته وتز پارابول دی، چې ککرټکی یا رآس یې د غورځوني ماکسیمال جګوالی ورکوي.

د ککرټکي یا رآس شرطونه: $s'(t) = v(t) = 0 \Leftrightarrow t = 0{,}7\ s$ د دې لپاره پرخه الف وکورئ.

خورا لوي جګوالی: $s(0{,}7) = 2{,}45$

خورا لوي یا ماکسیمال جګوالی 2,45 m دی.

## پوښتنې

## مشتقشمېرنه VIII

اول – د یوې فابریکې ټول مصرف دME 10 ماکسیمال تولید په K(x) سره ښایو. د یوه ME د خرڅلاو نرخ 28 GE دی.

$$K(x) = x^3 - 12x^2 + 50x + 40$$

الف – د نرختابع مشتق وشمېرئ. ( مشتقارزښت تابع یا پوله نرخ تابع) او ګراف یې وکاږئ. ګراف یې تشریح کړئ.

ب - مینیمال یا خورا کم د مشتقلګښت وشمېرئ.

پ – وښایئ، چې د هر تولید ډېرئ یا سټ مشتقنرخ یا مشتقلګښت مثبت دی.

ت – په کومه ورشو کې ګټې فکر وشي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

ټ - په کومه ورشو کې ګټه زياتېږي؟

دويم _ د يوه خوځنده جسم يا تن د لار - وخت- دياګرام s(t) ورکړی

| | |
|---|---|
|  | الف – دا حرکت تشريح کړی<br>پ - د اړونده چټکتيا – وخت – دياګرام رسم کړی، که باور ولري:<br>$v(t) = s'(t)$. |



دريم – تابع د يوه خوځښت يا حرکت لار د لار – وخت دياګرام کې ښايي.

| | |
|---|---|
| الف – يو روځنی بېلګه ورکړی، چې دا لار په کوته کولای شي.<br>د کړې يا منحنې دا لار د $t > 3$ لپاره فزيکي په څه مفهوم دی؟<br>ب – د دې خوځښت يا حرکت لپاره د لار – وخت – قانون دی:<br>$$s(t) = \frac{1}{2} a \cdot t^2 + v_0 \cdot t$$<br>a او $v_0$ و ټاکی.<br>پ – دې سره اړوند د چټکتيا – وخت – دياګرام رسم کړی او دا تشريح کړی.<br>يو منفي سرعت يا چټکتيا په څه معنا دی؟ |  |

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځلورم:

| | |
|---|---|
| د یوه خوزښت د چټکتیا لار ورکړی. دا دیاګرام تشریح کړی. د ممکنه توټه کرښو تلنلار په هکله ویناوې وکړې. |  |



## حلونه

## مشتقشمیرنه VIII

مفصل ځوابونه:

لومړی:

الف-

| | |
|---|---|
| الف - $K(x) = x^3 - 12x^2 + 50x + 40$ $K'(x) = 3x^2 - 24x + 50$ د پولي لګښت ګراف پورته لور ته واز پارابول دی. په ککره یا رآس کې یې پوله لګښت خورا کم دی. |  |



ب – د خورا کم مشتقلګښت لپاره شرطونه : $K''(x) = 0$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$$K(x) = x^3 - 12x^2 + 50x + 40$$
$$K'(x) = 3x^2 - 24x + 50$$
$$K''(x) = 6x - 24$$
$$K''(x) = 0 \Leftrightarrow 6x - 24 = 0 \Rightarrow x = 4$$
$$K'(4) = 2$$

له دې لاس ته راځي: د یوه 4ME ( څلور ډېرى یا سټ واحدونه)تولید مشتقلګښت د 2GE/ME سره خورا کم دی.

پ –

$K'(x) = 3x^2 - 24x + 50$ د $K'(4) = 2$ لپاره مثبت دی.

که له نیونې یا فرضیې سره سم $K'(x)$، $x \in \mathbb{R}_+$ مثبت وي، د صفرځاي د لرلو اجازه نه شته.

موږ $K'(x)$ په صفرځایونو څېړو:

$$K'(x) = 0 \Leftrightarrow 3x^2 - 24x + 50 = 0$$
$$\Rightarrow p = -8;\ q = \frac{50}{3};\ D = \left(\frac{p}{2}\right)^2 - q = 16 - \frac{50}{3} < 0$$

له دې لاس ته راځي جې حل یا اوبی نه شته.

مشتقلګښت د هر تولید لپاره مثبت دی.

څه چې د ښوولو وو.

ت – د لاس ته راوړنې ( یعنې هر څه چې پلورل شوي وي) تابع: $E(x) = 28x$ ( له پوښتنې کولو لاس ته راځي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

د ګټې تابع: $G(x) = E(x) – K(x) = -x^3 + 12 x^2 - 22x – 40$

ګټه هلته کیږي، چې د ګټې تابع مثبت ارزښت لري.

ازمایو:

$G(4) = 0$ ; $G(5) = 25$ ، پس د $G(x)$ صفرځای $x_1 = 4$ دی.

هورنر:

$$\begin{array}{c|cccc} & -1 & 12 & -22 & -40 \\ x=4 & & -4 & 32 & 40 \\ \hline & -1 & 8 & 10 & 0 \end{array} \quad \Rightarrow -x^2 + 8x + 10 = 0$$

$$x_{2/3} = 4 \pm \sqrt{26} \Rightarrow x_2 \approx 9{,}1$$

د $4 \le x \le 9{,}1$ لپاره فابریکه په ګټهکار کوي.

ټ- – د ګټې زیاتیدل څکه، چې $G(x)$ مثبته جګېدنه لري او $G(x) > 0$ دی.

یعنې: $G(x) > 0 \wedge G'(x) > 0$

د $G'(x) = -3x^2 + 24x – 22 > 0$ $x \in \left[4 - \sqrt{\frac{26}{3}} ; 4 + \sqrt{\frac{26}{3}}\right]$ لپاره یا $x \in [1{,}05 ; 6{,}9]$

د ګټې زیاتیدنه: $[4 ; 9{,}1] \cap [1{,}05 ; 6{,}9] = [4 ; 6{,}9]$

ګرافونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library






دویم:

| ب- | الف – له 0 تر 1 s پورې: |
| --- | --- |
|  | خوزښت د مساوي پاتې چټکتيا سره<br>.v = 2 m/s<br>له 1 تر 2 s پورې.<br>ځاي په ځاي دریدنه: v = 0 m/s<br>له 2 تر 5 s پورې.<br>خوزښت د مساوي پاتې چټکتيا سره:<br>v = 1/3 m/s |



دریم: الف – یو شی عمود پورته لور ته غورځول کیږي. د $t > 3$ s لپاره $s < 0$ دی، دا په دي معنا چې دا شی د غورځول ځاي څخه لاندې یا کښته دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

ب - $s(t)=\frac{1}{2}at^2+v_0t$ د خوزښت مساوات.

د a او v0 د خوزښا لپاره د ګراف له دوه ټکو څخه کار اخلو.

$$P_1(1|5): s(1)=\frac{1}{2}a+v_0=5$$
$$P_2(3|0): s(3)=\frac{9}{2}a+3v_0=0$$
$$a=-5;\ v_0=7,5$$

a<0 په دې معنا، چې دا يو ځنډشوی حرکت دی.

| | |
|---|---|
|  | پ - <br>$v(t)=s'(t)=at+v_0=-5t+7,5$<br>چټکتیا په پیل کې مثبت ده، دا په دې معنا چېجسم یا بدن پورته لور ته خوزي.<br>مګر دا کمیږي او t = 1,5 s سره صفر دی.<br>بدن هغه خپل خورا جګ جګوالي ته ورسېده.<br>وروسته جګوالی منفي دی، بدن لویږي، هغه ښکته لور ته خوزي. |

څلورم:

0 - 100 m: چټکتیا زیاتیږي.

100 - 150 m چټکتیا براپره پټیږي 40 km/h.

150 - 200 m [ټکتیا کمیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-----------------------------------------------------------------------------------------

250 - 300 m چټکتیا برابره پاتیږي..15 km/h :

300 - 400 m چټکتیا  زیاتیږي.

له 400 m    وروسته چټکتیا ثابته پاتیږي. 40 km/h.

روښانه ونه: په کښته لوېدلي سرک په تعجیل یا په بیړه کیږي، پسې سرک هوار دی.

ورپسې سرک مایل  په غره پورته کیږي جتکتیا تر 15 km/h پورې کمیږي. پسې کښته لویږي، چې سرعت یا چټکتیا بیرته  زیاتیږي.  له دې وروسته هغه خورا جګه  د 40 km/h چټکتیا یا سرعت   ساتلې پاتیږي په دا پسې لږ پاتې کرښه باندې.

## تولګه :

د کرښې جګیدنه:




د کرښې لپاره د جګیدنې فرمول

$$\frac{\Delta y}{\Delta x} = \frac{\text{مخامخ اړخ}}{\text{په پروت اړخ}} = \text{جګیدنه} \qquad \text{یا} \qquad \frac{f(x1)-f(x0)}{x1-x0} = \text{جګیدنه}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

بیلګه:

ټکی $P_0(2|3)$ او $P_1(5|7)$ په کربنه پراته دي

د $x_0 = 2$ او $f(x_0) = f(2) = 3$ سره

همداسي $x_1 = 5$ او $f(x_1) = f(5) = 7$ د کربښي جګیدنه ده:

جګیدنه= $Steigung = \frac{f(x_1) - f(x_0)}{x_1 - x_0} = \frac{f(5) - f(2)}{5-2} = \frac{7-3}{5-2} = \frac{4}{3}$

## د یوې کربښې جګیدنه

موږ لروده: $\Delta x = x_1 - x_0$

موږ دا مساوات په x1 پسي بنه بدلوو

$$\Delta x = x_1 - x_0 \,|+x_0 \Leftrightarrow \Delta x + x_0 = x_1 \Leftrightarrow x_1 = x_0 + \Delta x$$

اوس د جګیدنې فرمول کې لیکو:

د $f(x_1)$ په ځای $f(x_0 + \Delta x)$ د $x_1 - x_0$ په ځای $\Delta x$

له دې سره د جګیدنې فرمول دا بنه لري:

جګیدنه= $Steigung = \frac{f(x_0 + \Delta x) - f(x_0)}{\Delta x}$

دا فرمول کمښت وېښ دفرنسوېش بولو.

موږ د دې فرمول باوریوالی د پورته تمرین سره ازمایو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



$P_0(2|3)$ او $x_0 = 2$ $P_1(5|7)$ او $\Delta x = x_1 - x_0 = 5 - 2 = 3$

جگيدنه=

$$\text{Steigung} = \frac{f(x_0 + \Delta x) - f(x_0)}{\Delta x} = \frac{f(2+3) - f(2)}{3} = \frac{f(5) - f(2)}{3} = \frac{7-3}{3} = \underline{\underline{\frac{4}{3}}}$$

د يوې كربنې باوريوالى كيدى شي هم د كمبنتوپش سره وتاكل شي.

## د سيكانت جگيدنه او د تانجنت جگيدنه

پرابلم: د يوه په خوښه تابع f(x) په ټكي $P_0$ كي د گراف جگيدنه څومره لويه ده؟

د سيكانت يا ټوټهووني جگيدنه د $P_0$ او $P_1$ ترمنځ منځنى جگيدنه.



(c) ketabton.com: The Digital Library



د سیکانت سره څه پیښیږي، که موږ ټکی $P_1$ تل پسې د ټکي $P_0$ په لور و خوزوو یا بوزو؟




سیکانت یا غوڅووني تل د f(x) ګراف ته ور نږدې کیږي.

که $P_1$ په $P_0$ ولویږي یا پریوځي، نوره نو بیا سیکانت یا غوڅووني نه شته. دا بیا تانجنت شوی دی.

تانجنت یوه کرښه ده، چې د f(x) ګراف په ټکي $P_0$ کې لمسوي.

د تعریف یا پیژند له مخې د یوه د ګراف جګیدنه په ټکي $P_0$ کې د تانجنت د جګوالي سره برابره ده.

## کمښتوېش، دفرنشلوېش، مشتق او د جګیدني تابع

د دې لپاره چې د یوه ګراف f(x) د $x_0$ په ځای کې یعني په ټکي $P_0$ ( $x_0$ | f($x_0$) ) کې وشمیرو، کیدی شي دسیکانتجګیدني فرمول لپاره دا ،، دلتا،، تل کوچنی شي، کوم چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



-----------------------------------------------------------------------------------------

د ټکي $P_1$ راکښنه د $P_0$ په لور راکوي يا په ګوته کوي.

(کمبنتوپش) د سيکانت جګيدنه= $\text{Sekantensteigung} = \frac{f(x_0+\Delta x)-f(x_0)}{\Delta x}$

د ګراف $f(x)$ جګيدنه د $x_0$ په ځای کې د پوله جوړوني له لارې راکوي يعني

( دفرنځيالوپش) $\lim_{\Delta x\to 0}\frac{f(x_0+\Delta x)-f(x_0)}{\Delta x}$

پوله ارزښت په دې معنا، چې ،، x دلتا،، د صفر په لور هڅيږي، يعني په خوښه کوچنی کيږي، بې له دې چې ټيک صفر شي. ک د ،، x دلتا ،، لپاره ارزښت صفر ايښول شوی وی، نو به و يوه نه تعريف شوي افاده ا ووينه لاس ته راوړې وی.

$$\frac{f(x_0+\Delta x)-f(x_0)}{\Delta x}=\frac{f(x_0+0)-f(x_0)}{0}=\frac{f(x_0)-f(x_0)}{0}=\frac{0}{0}$$

تعريف نه

په ياد ولره: د دفرنشلوپش

$$\lim_{\Delta x\to 0}\frac{\Delta y}{\Delta x}=\lim_{\Delta x\to 0}\frac{f(x_0+\Delta x)-f(x_0)}{\Delta x}:=f'(x_0):=\frac{dy}{dx}$$

د $x_0$ په ځای کې د تابع ( f(x مشتق يا رابيليدنه بلل کيږي او د $x_0$ په ځای کې د ( f(x جګيدني لپاره يوه کچه ونه ده

د مشتق بيلګه:

تابع $y=f(x)=x^2$ لرو، غواړو د x=x0 په ځای کې مشتق پيداکړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$$f'(x_0) = \lim_{\Delta x \to 0} \frac{f(x_0+\Delta x)-f(x_0)}{\Delta x} = \lim_{\Delta x \to 0} \frac{(x_0+\Delta x)^2 - x_0^2}{\Delta x}$$

$$= \lim_{\Delta x \to 0} \frac{x_0^2 + 2x_0\Delta x + (\Delta x)^2 - x_0^2}{\Delta x} = \lim_{\Delta x \to 0} \frac{2x_0\Delta x + (\Delta x)^2}{\Delta x}$$

$$= \lim_{\Delta x \to 0} \frac{\Delta x(2x_0+\Delta x)}{\Delta x} = \lim_{\Delta x \to 0} (2x_0+\Delta x) = \underline{\underline{2x_0}}$$

دا چې د $f(x) = x^2$ لپاره ځای $x = x0$ په خوښه ټاکل کیدی شي، د دې تابع لپاره باور لري: ( د مشتق- یا رابیلیدني تابع) $f(x) = x^2 \Rightarrow f'(x) = 2x$

$f(x) := x^3 + x^2 - 4x - 1$ $\qquad f'(x) := 3x^2 + 2x - 4$




د مشتق – یا رابیلیدني تابع $f'(x)$ په ځای سړی د جګیدني تابع هم وایي، ځکه چې دا ابع د هر تابع ارزښت x لپاره د x په ځای کې د مشتق شوې تابع جګوالی ورکوي.

دا ترځنګ د یوه تابع ګراف دی، هم داسې د مشتق تابع په یوه کواوردینات سیستم کې انځوروي.

د مشتق – یا رابیلیدني تابع $f'(x)$ په ځای سړی د جګیدني تابع هم وایي، ځکه چې دا ابع د هر تابع ارزښت x لپاره د x په ځای کې د مشتق شوې تابع جګوالی ورکوي.

دا پورته ترځنګ د یوه تابع ګراف دی، هم داسې د مشتق تابع په یوه کواوردینات سیستم کې انځوروي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پام ولره:

په افراطي ځایونو (جګټکو، ټیټ ټکو) کې د مشتق تابع هر ځل ارزښت صفر لري.

په اوړونټکو – یا انعطاف ټکوکې (W) د مشتق تابع یو افراطي ځای لري.

## یوغړیزوالي

## د یوغړیزوالي خویونه:

یوغړیزې توابع( Monotony (یوناني: یوغړیز، برابرېدوله)

جګیدونکې(متزاید)، ټیټیدونکې(متناقص) توابع(جګ-ټیټیدونکې توابع)

که د ټولو $x_1 < x_2$ لپاره دf یوه تابع په یوه اینټروال کې $f(x_1) \le f(x_2)$ $(f(x_1) \ge f(x_2))$ وي، نو تابع په دې اینټروال کې مونوټون جګیدونکې( - ټیټیدونکې) بلل کیږي، که $f(x_1) = f(x_2)$ په کې اجازه ونه لري، نو دا $f(x_1) < f(x_2)$ $(f(x_1) > f(x_2))$کره یا ټینګه مونوټون جګېدونکې ( همغږیز ټیټېدونکې) بلل کیږي.

لاندې قواعد، چې له همغږیزوالي په لاس راځي، د همغږیزوالي حالت لپاره ګټور دي.

دf یوه تابع ټیک هلته د تعریف په ورشو(ساحه) D کې مونوټون جګېدونکې ده، که د خوښې $x_1$ او $x_2$ لپاره، چې په D کې پراته دي، باور ولري:

$$x_1, x_2 \in D \ \wedge x_1 \neq x_2 \ \Rightarrow \frac{f(x_1) - f(x_2)}{x_1 - x_2} > 0$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



د f یو تابع تیک هلته په D کې مونوتون تیټېدونکې ده، که د خوښې $x_1$ او $x_2$ لپاره، چې په D کې پراته دي، باور ولري:

$$x_1,x_2 \in D \wedge x_1 \neq x_2 \Rightarrow \frac{f(x_1)-f(x_2)}{x_1-x_2}<0$$

یوغږیزوالی (یکنواخت) Monotony جګتیتوالی، د جګتیتوالی جملې

| | |
|---|---|
| دا $f(x) = a_1x + a_0$ کرښیز (خطي) تابع خورا ساده تابع ده، چې انحنانه لري. ددې لپاره مسئول یې ثابته جګېدنه یا ثابت میل دی، چېرته چې $a_1 = \tan(\alpha)$، د $\alpha$ کرښې او مثبت لوریز د x -محور ترمنځ زاویه(کونج) ده.<br>په مخامخ شکل کې :کرښه د مثبت میل سره $a_1>0 \Leftrightarrow \tan\alpha>0$ |  |
| که $0<\alpha<90^0$ یا $0<a_1<\infty$ وي، دا په دې مانا چې $\alpha>0 \vee a_1>0$ همداسې(⇔)، نو کرښه جګیږي. دا دا معنی لري، چې د جګېدونکې x سره د تابع f(x) ارزښت هم جګیږي.<br>په مخامخ شکل کې: کرښه د منفي جګیدنې سره: $\tan\alpha<0$ همداسې(⇔) $a_1<0$ | <br>داپورته داسې دی: $tan\alpha<0$ همداسې $a_1<0$ |

که $90^0<\alpha<180^0$ یا $-\infty<a_1<0$ وي، دا په دې معنی، چې $\alpha<0$ همداسې $a_1<0$، نو کرښه تیټیږي یا لوېږي. دا په دې معنی، چې د جګیدونکې x سره د تابع f(x) ارزښت کوچنی کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

په پورته دواړو حالتونو کې د همغږيزې تابع (يا د جګ-ټيټيدونکي تابع) غږيږو او له يوه مونوتون جګيدونکي تابع څخه، که $a_1 > 0$ وي. له يوې همغږيز يا مونوتون ټيټيدونکي تابع څخه ، که$a_1 < 0$ وي.

دا د مونوټوني کلمه په هغو توابعو هم کارول کيږي، چې د منحنيو تلنه راکوي، که فکر وشي، چې په ټوليزه توګه د منحنی د ګراف په هر ټکي تانجنت اينبول کيدی شي.




له دې امله د تابع $f(x) = a_2x^2$ لپاره باور لري:

په اينتروال $I_1 = \{x \mid -\infty < x < 0\}_{\mathbb{R}}$ کې تابع f(x) مونوتون ټيټيږي. او په اينتروال $I_2 = \{x \mid 0 < x < \infty\}_{\mathbb{R}}$ کې f(x) مونوتون جګيږي.

لکه د کرښې په ګراف کې، چې جګيدنه ثابته وه. اوس دا حالت مخ ته نه لرو، يعنې جګيدنه ثابته نه ده، بلکې دا د منحني له يوه ټکي څخه بل ټکي ته تغير خوري.

د تانجنت جګيدنه $>0$ ← منحني مونوتون جګيږي

د تانجنت جګيدنه $< 0$ ← منخني مونوتون ټيټيږي

د تانجنت جګيدنه، که صفر وي، ثابت پاتې کيږي.

روښانه ده چې دf(x) تابع لومړی مشتق f'(x) د تابع ميل (جګوالی) ورکوي. ددې سره د مونوتونی قضيه په لاندې ډول فرمولوو .

قضيه: دf(x) تابع دې په اينتروال Iکې مشتقوړ وي.
١ که د f(x) تابع په اينتروال Iکې همغږيز – يا مونوتون جګيدونکي وي، نو باور لري:
$f'(x) \geq 0$ د ټولو $x \in I$لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

که $f(x)$ په اينتروال I کې مونوتون ټيټيدونکې وي، نو باور لري: $f'(x) \leq 0$ د ټولو $x \in I$ له پاره.

۲ . که $f'(x) \geq 0$ وي، دټولو $x \in I$ لپاره ، نو $f(x)$ په اينتروال I کې مونوتون جګيدونکې ده.

که $f'(x) \leq 0$ وي د ټولو $x \in I$ لپاره ، نو $f(x)$ په ايترولIال کې مونوتون ټيټيدونکې ده.

۳ که $f'(x) > 0$ وي ، د ټولو $x \in I$ لپاره، نو $f(x)$ په اينتروال Iکې په کلکه مونوتون جګيدونکې ده

که $f'(x) < 0$ وي د ټولو $x \in I$ لپاره،نو $f(x)$ په اينتروال Iکې په کلکه مونوتون ټيټيدوني ده.

| | |
|---|---|
| د مونوتوني پيژند ورشو (تعريفساحو) ټاکنه<br>بيلګه: د تابع ګراف څخه زيات وخت کېدی شي د مونوتوني ساحې لږ يا زيات ټيک و لوستل شي.<br>د $I_1 = \{-\infty < x < 1\}_{\mathbb{R}}$ لپاره $f(x)$ په کلکه مونوتون جګېدونکې دی.<br>د $I_2 = \{1 < x < 3\}_{\mathbb{R}}$ له پاره $f(x)$ مونوتون ټيټېدونکې ده.<br>د r $I_3 = \{3 < x < \infty\}_{\mathbb{R}}$ لپاره $f(x)$ په کلکه مونوتون جګيدونکي ده. | $f(x) := \frac{1}{3}x^3 - 2x^2 + 3x$<br><br>$I_1$ wachsend $x < 1$　$I_2$ fallend $1 < x < 3$　$I_3$ wachsend $x > 3$<br>جګيدونکې　ټيټيدونکې　جګيدونکې |

باور لري: $f'(x) > 0$ لاس ته راځي: کره مونوتون جګيدونکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$f'(x) < 0:$ لاس ته راځي: کره مونوتون ټيټيدونکی

$$f(x) = \frac{1}{3}x^3 - 2x^2 + 3x \Rightarrow f'(x) = x^2 - 4x + 3$$

لومړی پل: نا مساوات $f'(x) > 0$ همداسي نامسات $f'(x) < 0:$ حل کوو

دويم پل: د $f'(x)$ توټه کوته په کرښيزو ضربونو يا فاکتورونو

$$f'(x) = (x-1)(x-3)$$

دريم پل : د مخنخښي جدول.

د دوه ضريبونو ضرب تيک هلته زياتيز يا مثبت دی، که دوړه ضريبونه همغه يا برابره مخ نخشه ولري.

يو د دوه ضيبونو ضرب تيک هلته کميز يا منفي دی، که دواړه ضريبونه مختلفي مخنښپولري.

| Bereich | $x < 1$ ($x = 1$) | $1 < x < 3$ ($x = 3$) | $x > 3$ |
|---|---|---|---|
| $x - 1$ | − | + | + |
| $x - 3$ | − | − | + |
| $f'(x)$ | + | − | + |
| $f(x)$ ist streng monoton | wachsend | fallend | wachsend |

f(x) جګيدونکی ټيټيدونکی جګيدونکی کره يوغرېز

بيلګه:دا لاندې ګراف لرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ګراف څخه لاندې مونوټوني ساحې لوستل کیږي.

د $I_1 = \{-\infty < x < 0\}_{\mathbb{R}}$ لپاره f(x) په کلکه مونوتونج ګېدونکي ده.

د $I_2 = \{0 < x < 2\}_{\mathbb{R}}$ له پاره f(x)په کلکه مونوتونجګیدونکي ده.

د $I_3 = \{2 < x < \infty\}_{\mathbb{R}}$ لپاره f(x) په کلکه مونوتون ټیټېدونکي ده.

$$f(x) := \frac{-1}{4}x^4 + \frac{2}{3}x^3 + 2$$




ټیټیدونکي جګیدونکي، جګیدونکي،

له ګراف څخه لاندې مونوټوني ساحې لوستل کیږي.

د $I_1 = \{-\infty < x < 0\}_{\mathbb{R}}$ لپاره f(x) په کلکه مونوتونج ګېدونکي ده.

د $I_2 = \{0 < x < 2\}_{\mathbb{R}}$ له پاره f(x)په کلکه مونوتونجګېدونکي ده.

د $I_3 = \{2 < x < \infty\}_{\mathbb{R}}$ لپاره f(x) په کلکه مونوتون ټیټیدونکي ده.

## ځای اړونده افراطي ټکي

یادونه: که په لیکنه انحرافي ټکي ګورئ،نو هغه افراطي ټکي دي.

ترمخ راوړنه او د کلمې روښانه ونه:

د یوه تابع ګراف زسمونه تر اوسه ناکافي وه، ځکه چې جګ او ټیټ ټکی نه پیژندل کیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مشق شمیرنې له لارې مونږ هڅیږو، چې دا ستونځې حل(اوبې کړو) کړو.

که د f(x) لپاره د $x_0$ په ځاي کی f' (x) = 0 ولرو نو یو نسبي ټیټ ټکی مو مخ ته پروت دی.

که دf(x) لپاره د $x_0$ په ځاي کی f' (x)=0اوf''(x)>0 ولرو نویو نسبي ټیټ ټکمو مخ ته پروت دی.

که ددې برعکس ولرو: f ' ( x ) = 0 او0 > f '' ( x ) ، نو یو نسبي ماکسیموم مو مخ ته پروت دی.

د افراطي ټکي( ټیټ ټکي یا جګ ټکي) لپاره خوي ټاکونکی دی، چی f ' ( x ) = 0 وي، او د

f '' ( x ) مخ نبنه ( + ، - )، په دې پریکړه کوي چی ایا یو ټیټ ټکی( اصغري ټکی)او که جګ ټکی(اعظمي ټکی) مو مخ ته پروت دی.

د پورته اړیکو لپاره لاندې یادوني اړیینې یا ضرور دي:

۱ – دا اړیکي یواځي د $x_0$ لپاره ارزښت لري چی د تعریف سټ په دننه کی پروت وي او هلته

د y = f (x) تابع پوره څو ځلې مشتقوړ وي، د غاړو(څنډو) او د هغوځایونو له پاره چی هلته f ( x ) تابع کم یا هیڅ مشتقوړ نه وي، ځانګړو څیړنو ته اړتیا ده.

۲ - شرایط چی f ' ( x ) = 0 وي ( مشتقوړ تابع) یواځی د یوه انحرافي ارزښت لپاره ضرور دی (ضروري یا اړین شرایط) .

۳– شرایط f ' ( x ) = 0 او $0 \neq$ ( x ) '' f د بحراني ټکي لپاره یواځی پوره کیدونکی دی او نه ضروري )

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

بيلګه :

د $f(x) = x^2 + 2$ تابع ګراف وکاږئ او که بحراني ارزښتونه لري، هغه د ګراف او د مشتق له لارې وټاکئ.

حل:

ګراف: ګراف دې د ګرانو لوستونکو د کور کار وي؟

د بيلګې له ګراف څخه روښانه ده، چې تابع د x=0 په ځاي کې خورا ټيټ ټکی(اصغري-) لري.

د انحراف ټکي له پاره اړيين شرطونه:

۱ – د تابع لومړي مشتق دی: $f'(x) = 2x$ په دې مساوات کې د تابع مشتق د $x_0$ له پاره صفرځاي لري، يعنې دلته يو بحراني ټکي پروت دی.

۲ – د تابع دويم مشتق: $f(x)'' = 2$ . دا چې $f''(x) > 0$ دی، نو يو نسبي ټيټ ټکي مخ ته لرو.

بيلګه : د $y = x^4$ تابع د $x = x_0 = 0$ لپاره نسبي ټيټ ټکی لري او باوري دي

$$f'(x) = 4x^3 \Rightarrow f'(0) = 0$$

$$f''(x) = 12x^2 \Rightarrow f''(0) = 0$$

ګورو چې دوهم مشتق د صفر څخه نه کوچنی او نه لوي دی.

د پورته شنني څخه لاندې پيژند ته راځو:

> پيژند : د $x = x_0$ په چاپيريال کې د $y = f(x)$ تعريف شوې تابع يونسبي جګټکی په همدې ډول نسبي ټيټ ټکی لري، که ټولو $x_0$ ته پوره نږدې x لپاره باور ولري:
>
> $f(x) > f(x_0)$ په همدې ډول $f(x) \le f(x_0)$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

جمله : ( د یوه نسبي افراطي ټکي لپاره ضروري شرایط):

که په $x_0$ کی مشتقوړ تابع $y = f(x)$ انحرافي لري نو لرو: $f'(x) = 0$

دا جمله موږ ته وایي ( یادونه ۲دي مقایسه شي): چیرته چی $f'(x) \neq 0$ وي نو هلته اکستریموم نه شته، د اکستریموم لپاره یواځي د $x_0$ ځاي په پوښتنه کی راځي، چی د هغي لپاره لرو$f'(x) = 0$ ، خو حمتي نه ده چی $y = f(x)$دي یواکستریموم و لري.

جمله : ( د یوه افراطي ټکي لپاره پوره کیدونکی شرایط):

که په $x = x_0$ کی دوه واره مشتقوړ تابع $y = f(x)$ لپاره ولرو:

$$f'(x) = 0 \quad , \quad f''(x) \neq 0$$

نو تابع $y = f(x)$هلته یو افراطي ټکی لري. خورا تیټ ټکی مخ ته لرو، که وي:

$$f''(x) < 0$$

خورا جګ ټکی مخ ته پروت دی ، که وي:

$$f''(x) > 0$$

له ښی لور انحنا یا کوږوالی اوله کیڼ لور انحنا یا کوږوالی (مقعر او محدب)

که په یوه اینتروال کي د مشتقوړ تابع f دویم مشتق $f''>0$ وي، نو په دي اینتروال کي ګراف کیڼ کوږ شوی یا کینه انحنا لري او که دویم مشتق $f'' < 0$ وي، نو د تابع ګراف ښی کوږ یا ښی انحنا لري.

دوه ځیرې ( د لاندي بېلګي ځیره و باسی ؟-)

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

بیلګه:

ټول ګونګتابع (راشنل تابع) f د $f(x) = x^3 - 2x^2 + 4x - 1$ سره په کومه ورشو(ساحه)کې کینېکوږدی(کینه انحنا لري(ننوتی یا مقعر دی)) او په کومه ورشوکې ښی کوږ دی( ښی انحنا لري(محدب یا وتلی دی)؟

دویم مشتق: (لومړی مشتق(

$f'(x) = 3x^2 - 4x + 4$

$f''(x) = 6x - 4$

د $6x-4>0 \Rightarrow x > 2/3$ لپاره کینې ګوږوال ( کینه انحنا (ننوتی یامقعر)

د $6x-4<0 \Rightarrow x < 2/3$ لپاره ښی کوږوالی( ښی انحنا( وتلی یامحدب))

بیلګه:

